# لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ». «هغه مهال لمونځ کول نه صحيح کېږي چې خواړه د خوراک لپاره چمتو وي او نه هغه مهال چې د وړوکي او يا لوى اودس ماتي له امله يې اودس تنګ وي

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ، وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ». «هغه مهال لمونځ کول نه صحيح کېږي چې خواړه د خوراک لپاره چمتو وي او نه هغه مهال چې د وړوکي او يا لوى اودس ماتي له امله يې اودس تنګ وي».

[صحيح] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه خوراک په شتون کې له لمانځه څخه منعه کړې چې د عبادت کوونکي اشتها ورته راځي او زړه يې ورسره تړلى وي. همدا رنګه يې هغه مهال له لمانځه څخه منع فرمايلې ده چې اودس ماتى ورټېنګ وي - تشې او يا ډکې متيازې ورځي - ځکه چې د دې دواړو ايسارول يې مشغولوي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee